


# امت ته پیغام

## شیخ ابو مصعب زرقاوی رحمه الله

راټولوونکی:  استاد احمد ظاهر اسلمیار
ژباړونکی :  أبو أســـامــــة عتیق زی

د کتاب ځانګړنې

د کتاب نوم: امت ته پیغام

تعداد:2000 جلده

دچاپ کال: 1432

د چاپ ګڼه: لومړۍ

راټولوونکی: استاد احمد ظاهر اسلمیار

ژباړونکی: أبو أسامة عتیق زی



بسم الله الرحمن الرحیم

## د ژباړن سریزه

ان الحمدلله الذی فاطر السموات والارض، مهزم الاحزاب، مجرئ السحاب و منزل الکتاب وصل وسلم علي سیدنا و سندنا ومولانا و قائد المجاهدین محمد بن عبدالله صلي الله علیه وسلم وعلي اله وصحبه وسلم...

### ددې رسالې لوستونکیه!

داسې مه ګڼه چې دا یوازې یو څو کرښې دي چې شیخ صاحب لیکلي دي او دې امت ته یې ډالۍ کړي دي، داسې هم مه ګڼه چې هغه خو ولاړ شهید شو او خبرې یې د هغه وخت مقتضي وې او اوس هیڅ نشته، مګر دا دې پر سینه باندې ولیکه چې د حق او باطل معرکه هغه وخت شروع شوه چې کله الله تعالی د انسانیت د پیدایښت اراده وکړه او دا معرکه او جهادونه به ترهغه روان وي څو چې دا ځمکه او دا اسمانونه داسې بې ستنې ولاړ وي او څو چې ژوي پر دې ځمکه ګرځي دا د اور او وینو مقابله به توده وي.

د مبارک شیخ ژوندانه ته که لږ په ځیر وګورو نو یقیناً دا په ډاګه کیږي چې ده مبارک د اعلاء کلمة الله او د هغې کلمې لپاره جنګیده د کومې لپاره چې په احد کښې رسول کریم صلی

الله علیه وسلم پر سر، مخ او صورت باندې ګوزارونه وخوړل، دکومې لپاره چې ابوعبیده عامر بن الجراح رضی الله عنه په بدر کې د خپل پلار سر له تنې جدا کړ، د کومې لپاره چې مهاجرینو خپل دیار او کلي او کور او کورنۍ او زامن او لوڼې دا هر څه پریښوول او پردیو وطنونو ته یې په مسافرت پیل وکړ...

دا یې ددې لپاره وکړل څو دا امت سبا ورځ په جماعت سره لمونځونه وکړي، دا یې ددې لپاره وکړل څو دا امت له نورو ملتونو شاته نه وي پاتې، دا یې ددې لپاره وکړل چې سپین مخ د الله تعالی حضورته ودریږي، دا یې ددې لپاره وکړل چې د الله تعالی نظام د الله عزوجل پر ځمکه باندې قایم او پلي شي...!

شیخ مبارک چې کله هم د ځوانۍ منګ ته رسیدلی دی نو د الله تعالی د دین لاره یې غوره کړېده، افغانستان ته راغلی دلته یې جهاد کړی او د روس له وتلو وروسته خپل وطن ته تللی او د فلسطین د آزادۍ غوښتونکو مجاهدینو ډلې ته ورګډ شوی..

بیا افغانستان او بیا عراق ته راغلی او دلته یې د مجاهدینو صدارت پر غاړه اخستی دی، ټول عمر، مال، اولاد، وخت، ځواني او هر څه یې دالله دلارې قرباني کړل، دده مبارک ژوندانه د تحلیل څخه دا ثابتیږي چې د دنیا د هر قسمه لذت او خوند





څخه ده ته مقدم د الله تعالی د دین اعلاء او ددغه امت د ذلت د کندې څخه درا ایستلو لارې چارې وې.

## ګرانه لوستونکیه!

دا دین په دومره آسانۍ نه دی راغلی لکه دا څومره چې نن په ارزانه پلورل کیږي او لکه دا څومره چې خلک ورته ګومان کوي؟! دا دین پر ډیرو سختیو او مشکلاتو ولاړ دی پر سختیو او مشکلاتو راغلی دی، رسول صلی الله علیه وسلم ددغه دین او د خپل امت د مجد او عزت د ساتلو لپاره ډیرې قربانۍ ورکړې رسول صلی الله علیه وسلم د یوې مؤمنې ښځې د ډډې د لوڅیدو په سبب د هغه کافر ستونی څیرې کړ، خو نن چیرې دي هغه امتیان چې د خپل رسول صلی الله علیه وسلم د متابعت په چیغو یې ستوني څیرې کړل چې د خپلې خور او مور د عزت ساتلو لپاره وړاندې شي او د صلیب د بچې ستونی ورڅیرې کړي.

چیرته دي هغه بچیان د خالد او زبیر چې نن د سپینې مانۍ دا سره خوګان په خیټو کې په نیزو ووهي او د اسلامي امت عفیفې او طآهرې لوڼې ترې راوباسي...؟؟!

والله اې امته اې ځوانانو !! زموږ او ستاسې په رګونو کښې
وينې نه مګر اوبه چليږي، والله زموږ په ژوند کښې خير نشته
مګر دا چې د خپل دلاسه تللي مجد او عزت لپاره قرباني
ورنکړو، والله زموږ په ژوند کښې خير نشته چې دالله دين او د
هغه بندګان دي په ذلت او خوارۍ کښې ژوند کوي او موږ دي
ورته ګورو، والله بالله ځواب نلرۍ هغه سوال ته چې د الله
عزوجل رسول به يې له تاسو څخه کوي چې، اې جبونه چيرته
وې هغه وخت کښې چې زما لوڼې صليبيانو او صهيونستانو له
ځآنه سره بيولې؟؟؟؟ مخکې تردې چې ورشۍ دغه سوال ته
ځواب پيدا کړۍ؟؟؟
ولله العزة ولرسوله وللمؤمنين ولكن المنافقين لايعلمون.

أبوأسامة عتيق زى





## د شيخ ابو مصعب زرقاوی لنډه پيژندنه:

الحمدلله والصلوة والسلام على عباده الذين اصطفى..!
د ځينو ورونو د غوښتنې پر اساس مې دا ومنله چې د هغه چا د
ژوند پر حال چې امير الاستشهاديين، د مجاهدينو لپاره نمونه،
د مؤحدينو زمرى، د عراق د اسلامي دولت بنسټ
اېښودونکی، د سره صليب په مقابل کښې د جهاد اعلان
کوونکی او په همدې لاره کښې د شهادت د جام نوش کوونکی
بلل کيږي چې أبو مصعب الزرقاوي رحمه الله دی يو څه وليکم
څو د جهاد او شهادت د لارې مينانو ته د لارې مشال وګرځي.
هغه اوس هم ژوندی دی او هغه ته مړ ويل اشتباه ده دا ځکه چې
الله تعالى په قران کښې فرمايلي دي چې « «وَلاَ تَحسَبَنَّ الَّذِينَ
قُتِلُواْ فِي سَبِيلِ اللّهِ أمْوَاتًا بَلْ أَحيَاء عِندَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُونَ »(آل
عمران 169) او د مړو ګومان مه کوۍ هغو ته چې د الله تعالى
په لاره کښې وژل شويدي، مګر هغوی ژوندي دي او د الله تعالى
په نزد روزي ورکول کيږي.
نو د شيخ أبو مصعب رحمه الله نوراني ژوندانه ته بايد يو نظر
وکړو څو خپله لاره پيدا کړو، او خپل اصلي او حقيقي ژوندانه

ته ورسیږو او د هغو خلکو په څیر ونه اوسو چې یوازې جسماً ژوندي دي او نور په حقیقت کې مړه دي.

## د ماشومتوب او ځوانۍ دوره:

د شیخ رحمه الله اصلي نوم « احمد فضیل نزال الخلالیه» دی چې د اکتوبر پر ۲۰ مه کال ۱۹۶۶ میلادي په یوه فقیرنشینه کلي چې «معصوم» نومیږي او د زرقاء چې د اردن دوهم لوی ښآر بلل کیږي، دې غداري نړۍ ته معصومې سترګې وغړولې.

د زرقاء ښار په عنوان ددې چې اکثره اوسیدونکي یې فلسطینیان جوړوي پیژندل کیږي.

أبومصعب رحمه الله د علي بن ابی طالب رضی الله عنه په څیر د خپلې قبیلې او نیکونو د عقیدې مخالف پر رسول صلی الله علیه وسلم ایمان راووړ او د هغه همسنګری شو، دا هم د خپلې قبیلې خلاف چې بني حسن نومیږي مخالفه لاره غوره کړه او حقیقي منهج یې د ځان لپاره وټاکه چې هغه جهاد في سبیل الله دی.

شیخ أبومصعب رحمه الله په ماشومتوب کښې فقیرانه ژوند درلود او د هغه د ماشومتوب ملګري هم اکثریت یې فلسطیني ماشومان وه.





أبومصعب رحمه الله د ناداری او فقر له امله نکړای شول چې خپل تحصیل ته ادامه ورکړي او هماغه وو چې د ښوونځي پر دوهمه دوره کښې یې ښوونځی پریښود.

د ځوانۍ پر وخت کښې یې د خپلې کورنۍ له یوې انجلۍ سره واده وکړ او له هغې څخه د څلورو اولادونو یعنې دوه زامنو او دوه لورګانو چې نومونه یې امینه، روضه، محمد او مصعب دي چې خپله کنیه یې هم د وړوکي زوی مصعب څخه واخسته او أبومصعب شو.

أبومصعب د ځوانۍ په وخت کښې پر مادیاتو او نفسیاتو پسې وو او لاابالي ژوند یې تیراوه، د یوې میاشتې لپاره یې پر ښاروالۍ کښې کار وکړ خو هلته یې ډیر دوام ونکړ او وظیفه یې ترک کړه. بلاخره له واده څخه وروسته چې کله یې د متاهلۍ ژوند شروع کړ نو کرار کرار یې آرام خوی واخست او اکثره وخت به یې پر ذکر او الهي فرایضو او د خپل کلي په جومات کښې چې (فلاح) نومیده تیراوه.

د أبومصعب رحمه الله هدایت له هغه وخت سره سر خوري کله چې شوروي پر افغانستان یرغل وکړ او دی د سلفي جهادي ګوندونو تر تاثیر لاندې راغی او خپل کلی کور او کورنۍ یې پریښووله او د جهاد لپاره افغانستان ته راغی.

شیخ هغه وخت افغانستان ته راورسید چې کله له شوروي سره جهاد په خپلو آخرو مرحلو کښې وو او ویې کړای شول چې له جلال الدین حقاني او ګلبدین حکمتیار سره د شوروي پر ضد جهاد وکړي.

## اردن ته عودت او زنداني کیدل:

د شوروي له وتلو سره سم چې کله د مجاهدینو تر منځه خپلمنځي اختلافات شروع شول ګواکې همدا د أبومصعب رحمه الله د رنځ دلیل وګرځید او تصمیم یې ونیو چې بیرته خپل وطن ته ولاړ شي.
کله چې خپل وطن ته وګرځید نو بیا یې هم د شهادت او جهاد شوق له زړه څخه ونه ووت او ویې غوښتل څو له فلسطیني ورونو سره چې د اسراییلي اشغالګرو پر ضد یې جهاد کاوه کومک او مرسته وکړي. نو تصمیم یې ونیوه چې څه مقدار وسله له اردن څخه فلسطین ته انتقال کړي، هماغه وو چې د ځینو ملګرو په کومک یې دا کار وکړ خو د اردن د مرتدو اطلاعاتي شبکو له لوري ونیول شول او زنداني کړل شول.
زندان د شیخ أبومصعب رحمه الله د روحي او معنوي تربیې لپاره ځانګړې ځای وو ځکه هلته یې د مجاهدینو له معنوي





رهبر شیخ أبو محمد المقدسي حفظه الله سره لیده کاته وکړل او له هغه سره یې پر امامت بیعت وکړ.
د محاکمې په دوران کښې أبومصعب او د هغه ملګرو د اردن حکومت کافر وباله او حتی دیته هم حاضر نشول چې د ځان لپاره مدافع وکیل ونیسي، مګر پس له یو څه مودې چې د اردن حاکم عمومي عفوه اعلان کړه نو دی هم آزاد شو.

## افغانستان ته دوهم ځلي هجرت:

وروسته لدې چې له زندان څخه آزاد شو أبومصعب رحمه الله تصمیم ونیوه چې له مسلمینو سره یو ځای شي او د کفارو په مقابل کښې جهاد وکړي نو یو ځل بیا یې افغانستان ته هجرت وکړ. هغه وروسته له هجرت څخه په هرات کښې جهادي اردو رامنځته کړه څو له صلیبیانو سره وجنګیږي.
د سپتمبر له یوولسمې څخه چې هغه مبارکه حمله پکښې ترسره شوه د طالبانو او القاعدې مشرانو په کندهار کښې یوه ناسته وکړه چې هغه ته یې أبومصعب رحمه الله هم راغوښت، مګر امریکایانو هغه ځای بمبارد کړ چې ډیر مجاهدین په شهادت ورسیدل.

پر افغانستان د صليبيانو له يرغل څخه وروسته أبومصعب رحمه الله عراق ته هجرت وکړ.

## جهاد په عراق کښې:

عراق ته د داخليدو سره سم له خپلو ملګرو سره يو ځای د جماعة انصار السنة سره يو ځای شو چې د امريکايي بمباريو په لړ کښې د انصار السنة ډيرى مجاهدين په شهادت ورسيدل.

د صليبي يرغلګرو په واسطه د عراق له نيواک څخه وروسته شيخ أبومصعب رحمه الله له خپلو ملګرو سره يو ځای د صليبي يرغلګرو په ښکار شروع وکړه. ابوغيداء السوري چې په سوريه کښې د غاښونو ډاکتر وو د شيخ ابومصعب جهادي تشکيلاتو ته يې منظم مديريت وبخښه.

أبو مصعب رحمه الله د هغې علاقې او شوق په اساس چې له شيخ أبومحمد المقدسي سره يې درلوده د هغه د سايټ نوم يې پر خپلې جهادي ډلې کيښود ( جماعة التوحيد والجهاد ).

وروسته له دې امام أسامة بن لادن رحمه الله أبومصعب د عراق د مجاهدينو امير وګرځاوه او کله چې مجاهدينو او جهاد غوښتونکو دا واوريدل نو له هرې خوا څخه عراق ته راغلل او د أبومصعب تر قوماندې لاندې يې جهاد ته اوږه ورکړه، او





أبومصعب هم د عراق د اسلامي دولت پايې نورې هم ټينګې کړې او وروسته له دې د « تنظيم القاعدة العراق» باندې ونومول شو.

شيخ أبومصعب له صليبي يرغلګرو او د هغوی له نوکرانو سره چې روافضيان وه څو اړخيزه جنګ شروع کړ او صليبيان يې پر ځان پورې حيران او دريان وګرځول.

## د شیخ أبومصعب رحمه الله زوجاتې:

لکه څنګه چې مو تر مخه وویل چې د ځوانۍ پر مهال یې د خپلې کورنۍ له یوې انجلۍ سره واده وکړ او له هغې څخه د څلورو اولادونو پلار وګرځید ، او بیا یې په افغانستان کښې د خپل یوه دوست له خور سره واده وکړ او د عراق په فلوجه کښې یې له یوې عراقۍ سره هم واده وکړ.

# امت ته پیغام!

الحمدلله معز الاسلام بنصره، ومذل الشرک بقهره، ومصرف الامور بامره، ومستدرج الکافرین بمکره، الذی قدر الایام دولا بعد له، والصلاة والسلام علی من اعلی الله منار الاسلام بسیفه. ثنا او صفت هغه الله لره ده چې اسلام ته عزت ورکوونکی په خپل نصرت ده، په خپل قهر د شرک او کفر ذلیل کوونکی دی، او په خپل امر په امورو کې تغیر راولي، او کافران په خپل تدبیر سره هلاکوي، الله هغه ذات دی چې د





(دنیا) ورځې د خپلو بندګانو ترمنځه په عدل ړدي او سلامتي دې وي پر هغه چا چې د هغه د تورې له زوره د اسلام مناره لوړه شوه...!

## عزتمنده امته:

زه تاسو ته هغه خبره کوم چې د اشتباه سبب نه ګرځي څو په تاسو کښې اوریدونکي غوږونه او پوهیدونکي زړونه پیدا کړم، او بې له شک څخه هر هغه څوک چې د جهاد په صف کې جنګیږي هغه هیڅکله دروغ نه وایي.

صلیبي دښمن چې کله پر عراق باندې حمله وکړه دوی نیت درلود چې پر ټول امت مسلمه باندې مسلط شي او خپل بچې صهیونستانو ته لوی هیواد له نیل څخه تر فراته پورې جوړ کړي مګر د امت بچیانو او زمریانو په ډیر شهامت او زړورتیا ددوی په مقابل کې ودریدل او الله تعالی دغو مجاهدو بچیانو ته د صلیبي یرغلګرو د سختو حملو په مقابل کې د مقاومت توفیق ورکړ او ورکوي یې.

څه باندې درې کاله کیږي چې د صلیبیانو ددغې حملې په مقابل کښې ولاړ دي او پر دغه لاره کښې یې له هیڅ څه څخه دریغه نده کړې، مال، نفس، وخت، او خپل هر څه قرباني کوي

او پر دغه لاره کښې ددوی له سخت ترینو نظامي، تبلیغاتي او اقتصادي حملو سره مخ دي.
دا ټول ستا ، ستا د اولادونو او ستا د دین د فاع په خاطر دي، ستا د محرماتو د دفاع لپاره دي او ستا په محرماتو باندې غیرت کوي، الله عزوجل په خپل لښکر باندې هغوی مات کړل، د هغوی ډله یې تیت او پرکه کړله او ماته او شکست یې هر انسان ته که چیرې پوهیدونکی زړه او سترګې ولري معلوم دی.
دا ستا اولادونه دي چې حمله پر حملې، او غزا پر غزا پسې کوي او د الله تعالی په فضل او کرم سره د جګړې پر ډګر کښې د امورو واګې پر لاس کې اخلي.
که چیرې د رسنیو او اطلاعاتو سانسور چې ورځ په ورځ شدت اخلي، نه وای نو تاسې به حتماً د مجاهدینو له اخبارونو څخه په حیرت کې لویدلي وی، قسم مې دې پر الله عزوجل وي چې دا جنګ په حقیقت کښې هغه د اتلولیو جنګ دی چې خوږ نسیم یې یو پر بل پسې پر موږ لګیږي. نو اې امته ! پر تاسو لازمه ده چې د خپل رب او پالونکي شکر وکاړې، دهغه عزوجل حمد او ثنا ووایاست، او هغه یې پر دغه لوی نعمت وستایې.
الله عزوجل ستا د زامنو یوه ډله اماده کړه څو ستا له خاورې او ستا له ساحې څخه دفاع وکړي او ستا کور وساتي، که چیرې دا نعمتونه نه وای نو اهل سنت به د صلیبي وحشیانو او روافضو





شیعه ګانو تر سلطې لاندې وای، د اهل سنتو ښځې به د صلیبي یرغلګرو په غیږو کې کنیزې وای او د ابوغریب او داخلې وزارت زندانونه هم له موږه لرې ندي.

## زما ګرانه امته!

موږ په عراق کښې د تیرې د اچونې په مسافه له رسول صلی الله علیه وسلم سره اوسیږو، په عراق کښې جنګیږو خو سترګې مو بیت المقدس لوري ته دي دا هغه ځای دی چې اوس له سره نه مسترددکیږي مګر په قران چې هدایت پکښې دی او په توري سره چې نصرت او یاري کوي، نو کافي ده هماغه رب ستا چې هدایت کوونکی او نصرت کوونکی دی.
ورځو او تجربو او سختیو او مصایبو دا جوته کړه چې وروسته له الله عزوجل څخه همدا ستا مجاهد زامن دي چې ستا په کومک قدم ږدي، دا ستاسو هغه مستحکم سپر او مضبوطه قلا او هغه تپیدونکی زړه دی چې ستاسو په خوښۍ خوښ او ستاسو په غم اوښکې تویوي، د شپې ستاسو له غمه ویښ اوسي او زړونه یې ستاسو له درده څیریږي او همیشه یې دا دعاء پر ژبه جاري وي چې :« یا الهي، دا ذلت او ظلم مو له دغه

مظلوم امت څخه لرې کړې او له لاسه تللی مجد او عزت مو بیرته راکړې »

او امریکایي اداري ته چې په رأس کې یې د بوش صلیب راځېږي ده ته او دده نورو یهودي او صلیبي او رافضي حلفاؤ ته چې پر ده راټول شویدي دا وایم چې: هیڅکله به د اسلام په خاوره کښې تاسې لذت ونه وینې، قسم مې دې په الله عزوجل وي چې تر څو مو رګونو کښې وینه چلیږي او سترګې مو په حرکت وي د اسلام په خاوره کښې به په خوښۍ ژوند ونکړې.

زموږ امیر او اولی الامر شیخ أسامة بن لادن حفظه الله ورعاه ستاسو او هغو خلکو ته چې ستاسو سره دې طویل المدته اوربند وړاندې کړ مګر په هغه وخت کښې ستاسو کبر او لویې تاسو له دغه کار څخه منع کړې.مګر نن د الله تبارک وتعالی په فضل سره کله ختیځ او کله لویدیځ ته د پناه لپاره منډې وهې، په داسې حال کښې چې ماتې خوړلې یاست، نادم او پر خپل کار پښیمانه یاست لکه یو انسان چې له شیطان څخه مأیوس شي.

ته ډیر دروغجن شوی یې ملت او پیروانو ته دې دروغ وایې او غولوې یې، او د مجاهدینو په ضربو نور هم دروغجن کیږې او وایې چې اوضاع په کنټرول کښې ده او زموږ ترلاس لاندې ده او بیا دې هر چا ته دروغ ښکاره شي چې ته دروغ وايې او





دروغجن یې. ستا حال د هغه چا په څیر دی چې شراب څښي او غواړي چې د شراب خوړلو له مرض څخه نجات پیدا کړي !! ته له خپل ځان او ملت سره یوه لحظه هم ریښتینی نه یې په داسې حال کښې چې ستا په نیکونو کښې داسې خلک ول چې په هغو کې یو څه صدق وو او ته له هغه څخه محروم یې !! ولې د خپلو عسکرو حقیقت او د هغوی د معنوي مورال د لویدو څخه انکار کوې او نه یې ښکاره کوې څو ملت دې ددغه جنګ له حقیقت څخه خبر شي؟؟ ولې ملت ته دې د خپلو عسکرو د ورځ تر ورځې زیاتیدونکې خودکشۍ نه وایې ؟؟ ولې هغوی ته نه وایې چې عسکران دې تر څو د عقل د زایلیدو او تخدیر ګولۍ او تابلیت ونخوري تر هغو خوب نه ورځي او کله چې یې وخوري نو بیا لکه د څارپایانو غوندې ګرځي او انجیلي او صهیوني جنرالان دې بیا هغوی قتل ځایونو ته سوق کړي ؟؟!!

اې شریره دروغجنه؛ پوه شه هغه خوبونه چې تا لیدلي او غواړې چې هغه ربنتیا کړې د هغو پر لاره کې ډیرې وینې او جسدونه پراته دي او آینده یې په الهي مرستې او کومک له دې څخه نوره هم ترخه او سخته ده، د خوسا ډیموکراسۍ نظام دې چې د عراق د اتلانو ځمکې ته راوړ او خلکو ته دې په مادي استقرار، خپلواکي او سعادت زیري ورکول داسې ورک شو چې بیا به د الله په فضل سره راونه ګرځي.

نن غوارې چې له هرې حيلې او وسيلې او د خپلو اجيرانو او مزدورانو، مرتدانو او منافقانو څخه ګټه واخلي هغوی راټول کړي او يو داسې فسادي حکومت جوړ کړي چې تا له دغې کندې څخه وباسي په کومه کښې چې ته د خپل ملت او پيروانو مخې ته د نجات لپاره لاس او پښې وهې! موږ پر دې معتقد يو او يقين لرو چې هر هغه حکومت چې په عراق کښې د رافضي شيعه وؤ، سيکولرو کردانو، او هغو خاينو اهل سنتو چې د صليبيانو اجيران دي، تشکيل شي هغه به د اسلامي امت په زړه کښې يو مسموم شوی خنجر وي.

امريکا او حلفاء يې پر دې پوه شوي دي چې دوی د خپلو توپونو، طيارو او ټانګونو له لیارې نشي کولای چې کامياب شي نو پر دې اساس يې داسې دسيسه جوړه کړه چې د هغې له لیارې دوی وکړای شي د جهاد او مجاهدينو پر ضد دسيسې جوړې کړي او ددغه هدف او مقصد د تحقق لپاره يې له اجيرو اهل سنتو څخه کار واخست له دوی څخه د رسۍ کار اخلي څو امريکا د هلاکت له دغې کندې څخه وباسي او امريکا پر دې لاره کې له هغه چا څخه ډير کار اخلي او هغوی يې ډير درد ته دوا کيږي څوک چې په ظاهره د اسلام نارې وهي او خپل تور او کثيف اعمال د هغوشاته پټوي، دا خاينين د خپلو بادارانو په اشاره او نيابت د پوليسو او اردو د تشکيل نارې سورې وهي او





په ډيره عجيبه توګه له مسلمانانو سره خبرې اترې کوي او د غولولو هڅه او هاند يې کوي. دوی په زهرو کښې عسل ګډوي خو له ياده يې ايستلي دي او يا خپل ځان په تغافل او تجاهل کې اچوي چې هر نيواکګر د نيواک شوي هيواد له داخل څخه يو اجير او غلام پر هغه ملت ګومارلی دی څو ددوی ارمانونه رښتيني کړي، د هغه ملت سرمايه غلا کړي، او خبيثه ارمانونه يې پوره کړي، مګر دا خوبونه يې هيڅکله ندي رښتيا شوي.

الله عزوجل فرمايي: و من يتولهم منكم فانه منهم «المايدة **۵۱**» هر هغه څوک چې له تاسو څخه د هغو سره متوالي شو (له يهودو او نصاراؤ سره يې دوستي وکړه) نو هغه د هغوی له ډلې شميرل کيږي. او ويې فرمايل: «ان فرعون وهامان وجنودهما کانوا خاطئين» القصص ۸، بې ګومانه، فرعون او هامان او د هغوی لښکر له خطاکارانو څخه ول.

موږ خپل اعلان بيا تکراروؤ هر هغه څوک چې د اردو او پوليسو په جوړولو او رامنځته کولو کښې برخه اخلي او د اشغالګرو اهدافو او موخو د تحقق او کفري احکامو د تطبيق لپاره تلاش او کوښښ کوي، بايد له دغه کار څخه لاس واخلي. او چې څوک دغو ارګانونو ته داخليږي قسم مې دی په الله لايزال وي چې بغير له تيرې تورې دويته بل څه نلرم او زمونږ او ددوی ترمنځه

هغه جنګ دی چې له زوره يې د ماشومانو تور ويښتان سپين کيږي.

الله تعالى فرمايي: الذين يقاتلون في سبيل الله والذين کفروا يقاتلون فى سبيل الطاغوت فقاتلوا اولياء الشيطان ان کيد الشيطان کان ضعيفا» النساء ۷۶. چا چې ايمان راوړی دی هغه د الله تعالى په لاره کې جنګيږي او هغه چا چې کفر کړی دی د طاغوت او شيطان پر لاره کې جنګيږي، نو د شيطان له دوستانو سره وجنګيږئ او بغير له شکه چې د شيطان مکر او چل ډير ضعيفه دی»

د دښمن او ددوی د فاسدو جنګي وسايلو له دغې ښکاره ماتې سره دوی اوس غواړي چې د خلکو دوه ډلې دې نمايشي پارلمان ته راکاږي څو د مجاهدينو د جهاد ثمره له منځه يوسي، د هغه مجاهدينو چې د الله پر ځمکه د الله نظام غواړي.

لومړۍ ډله غواړي چې له مجاهدينو سره ځان يو ځای کړي او ځان دهغوی حلفاء ښکاره کړي په داسې حال کې چې د جهاد په اوايلو کښې نه دوی په سختيو کې ول او نه هم د جهاد په تودو سنګرونو کښې. او دوهمه ډله هغه ده چې د صليبيانو سره يو ځای پر دغه جنګ کې شريک ول. د انسان اعمال د هغوی پر خاتمې پورې تعلق لري او ددوی اعمال شرعاً صالح ندی او تر





هغو به نشي تر څو چې دوی د الله تعالى د کلمې د اعلاء لپآره جدي کوښښ او هڅه ونکړي.

هغه نظامونه چې الله تعالى شرعي بللي دي نه دا شرکي او کفري پارلماني نظام چې الهي نظام پکښې په وضعي قوانينو بدليږي. او که چيرې دوی وايي چې موږ غواړو د پارلماني قوانينو له لارې شريعت حاکم کړو نو ددوی دا دعوا دروغ ده، او که چيرې څوک د عراق پارلماني تاريخ ته وګوري نو دا به ورته جوته شي چې اکثره همدا روافض، سيکولر کردان او سنيان پر پارلمان کښې ناست ول او هميشه دوی برلاسي ول او د پارلمان اکثره څوکۍ ددې طواغيتو په لاس کې وې.

الله تعالى فرمايي: واحذرهم ان يفتنوک عن بعض ما انزل الله اليک» المايدة ۴۹، له هغوی څخه ځان ساته هسې نه چې هغه څه چې الله تعالى نازل کړي په بعضې د هغو کې تا په فتنه کې ګير نکړي. او وايي چې: الم تر الى الذين يزعمون انهم آمنوا بما انزل اليک وما انزل من قبلک يريدون ان يتحاکموا الى الطاغوت وقد امروا ان يکفروا به ويريد الشيطان ان يضلهم ضلالا بعيدا.. النساء ۶۰:: آيا ودې نه ليدل هغه خلک چې ګومان کوي دوی ايمان راوړی دی په هغه شيانو (اسماني کتابونو) چې پر تا او له تا څخه پر مخکنيو باندې نازل شويدي ولې غواړي چې د قضاوت لپاره طاغوت او باطل ته ولاړ شي، سره لدې چې دوی

ته امر سوی دی چې پر طاغوت باندې کافر شي (ويې نه مني)، اما شيطان غواړي چې دوی بې لارې کړي، او په لرې ګمراهيو کې يې ايسار کړي!!





## مګر تاسې ای صابرو او صادقو مجاهدينو!

الله عزوجل دې زموږ او ستاسې صالحه اعمال قبول کړي او جهاد او رباط مو دې الله تعالی پر برکته کړي تاسې د الله تعالی په فضل او کرم سره د صليب دغه مخکې تلل د امت اسلامي پر لور ودرول او ډيرې ضربې مو ورته ورکړې، هغوی په داسې حالت کښې دي چې هيڅ څوک دداسې حالت هيله او تمه نه کوي، جهاد ته مو ادامه ورکړه او نظامي عملياتو کښې مو نور هم شدت او سختي راولی، والله دا ددوی شکست او ماتې ده او مخکې تردې چې په عراق کښې خپل د ماتې اعلان وکړي دا يې آخرۍ لحظې دي.

د جنګې ارادې ماته د صليب په لښکرو کښې ډير شوی، خپل نيتونه تجديد کړه او باطل مو اصلاح کړه، پر دښمن باندې زورورې حملې وکړه، دښمن مو نن نه ملاتړی او نه هم اراده لري او عزم يې ډير ضعيف شوی دی، هڅوکي يې مات دي او دا فرصت مه ورکوه چې تازه نفس واخلي او ضربې مو يو په بل پسې زياتې کړه.

نو ای د الله لښکره سپاره شی او ای د بیرغ اخستونکو ولاړ شی!! چیرته دي د انبار زمریان؟ چیرته دي د صلاح الدین زمریان؟؟؟ چیرته دي د بغداد میړونه ؟؟؟ چیرته دي د نینوا سپاره؟؟ چیرته دي د دیالي اتلان؟؟؟ چیرته دي د کردستان شهسواران؟؟؟ او چیرته یاستی تاسې اااې د توحید زمریانو؟؟؟ چیرته یاستی ای د خالد، مثنی، سعد او مقداد او صلاح الدین زامنو؟؟!!! چیرته دي مهاجر او انصار؟؟ چیرته دي صاحبان د انفال او توبې ؟؟؟ او چیرته دي اهل د دوه سورتونو فتح او قتال ؟؟؟؟؟؟؟!!!!

## ای د امت طلیعې !

څوک ددغو کونډو غږ ته رسیږي، څوک به دغه زنداني خویندې د صلیبیانو له وحشي زندانونو څخه راخلاصې کړې، او څوک به عفیفې ښځې د خبیثو رافضیانو له زندانونو څخه خلاصې کړي؟؟؟!!

الهي ژوند نشته مګر ژوند د آخرت نو انصارو او مهاجرینو ته بری او کامیابي په برخه کړې ؟؟ قطاع طریقانو او صلیبیانو څخه په کلکه بیزار اوسی. دوی هغه څوک دي چې ستاسو پر ضد دسیسې جوړوي! وسله مو هیڅکله پر ځمکه مه ږدی، او





که خدای مکړه دا کار مو وکړ په هغه ساعت به ندامت او حسرت او د دنیا او اخرت شرم او رسوایي به مو په برخه وي. تاسو به شپه او ورځ دا دعاء کوله چې په افغانستان او یا چیچن کښې درته الله تعالی د جهاد دروازې خلاصې کړي مګر دادی اوس ستاسو په خپل کور کښې الله تعالی د جهاد تجارت تاسو ته برابر کړ او تاسو یې ددغه کار لپاره اختیار کړی او دا دروازه یې تاسو ته خلاصه کړه.

نو ای مجاهدینو! هسې نه چې دا دروازه مو په خپلو ګناهونو بنده کړی او د هغې ښځې په څیر شی چې اوبدل یې کول او په آخر کې هیڅ په لاس ورنغلل.

که چیرې دا د جهاد بازار مو په هیواد او خاوره کې وران شو نو الله تعالی به د ذلت او رسوایی خیمې پر تاسو ودروي او ذلیل ترینه خلک به پر تاسو مسلط کړي او تاسو ته به بدترینه عذاب درکړي، اولادونه به مو قتل کړي، او ښځې به مو په زندانونو کې پرتې وي او خپل نعمتونه به له تاسو څخه واخلي.

الله تعالی فرمایي: وان تتولو یستبدل قوماً غیرکم ثم لا یکونو أمثالکم، محمد ۳۸آیة،... که مو شا واړوله (الهي احکام مو پلي نکړل او جهاد مو ونکړ) نو الله به بل قوم غیر له تاسو راولي او هغوی به تاسو غوندې نه وي.

او په آخر کې خپل عزتمند امت ته په عراق کښې د مجاهدینو د شوراء په تشکیل باندې زیری ورکوم چې لدې لارې به په عراق کښې د اسلامي دولت پآيې ټینګې شي چې موخه يې د کلمة الله اعلاء ده.

الله تعالی لره ثناء ده چې کوښښونه مو سره یو ځای کیږي او لاسونه یو او بل ته سره غځیږي څو له یو بل سره دالله تعالی او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم په طاعت او اطاعت او جهاد کښې تلاش او کوښښ او مصافحه وکړي. دا شوری به د هر صادق مجاهد لپاره چتر ګڼل کیږي او زما لپاره د عزت ځای دی چې زه ددې مبارکې شوری له غړو څخه یم او رهبري يې زما په اوږو پر دې ده چې په عراق کې د القاعدې د تنظیم امیر بلل کیږم.

خادم الجهاد و مجاهدین
المعتز بالله تعالی
ستاسو ورور أبو مصعب الزرقاوي
د جمعې ورځ، د ربیع الاول ۲۳ ، ۱۴۲۷ کال،
اپریل ۲۰۰۶ میلادي



امت ته پیغام

## د شیخ أبومصعب الزرقاوي شهادت:

بالاخره شیخ أبومصعب الزرقاوي په ۲۰۰۶ میلادي کال د عراق د بعقوبې ښار په ۸ کیلومتری کښې
د صلیبي بمباریو په ترځ کښې په شهادت ورسید، انالله وانا الیه راجعون، الله تعالی دې د یوویشتمې پیړۍ دغه د آسمان د پراخه تېر ځلانده ستوری قبول کړي. آمین

ددغه مبارک شهادت غوره کیسه د هغه همسایه چې احمد محمد نومیږي کوي دی وایي چې « هغه ځای کښې چې شیخ رحمه الله اوسیده هغه د خرما د خرځلاو او نورو محصولاتو ځای وو. دا کور او باغ چې صاحب يې پر یوه کس چې ابوعمر نومیده او د بغداد اوسیدونکی وو په ۷۰ میلیونه دینارو وپلوره، او دا خرځلاو دده له شهادت څخه ۱۲ ورځې تر مخه وو. تقریباً د سهار ۶ بجې وې چې پر همده کور دوه راکټونه ولګیدل او باغ په بشپړه توګه لمنځه ولاړ. وروسته له ۱۰ دقیقو ډیر غلیظ او ټینګ دود له هغه ځایه پورته شو، نو زه، ورور او د کاکا زوی مې دستي هغه ځای ته ورغلو او څو جنازې مو هلته ولیدې. یو سړی مې ولیده چې پښې يې قطع شوې وې او یوه جنازه مې ولیده چې هغه تکه تکه شوې وه، دوه ښځې مې

هم ولیدي چې شهیداني شوې وې، موږ پر نورو جنازو ګرځیدلو چې که چیرې کوم څوک ژوندي پیدا کړو، ناڅاپه ورور مې چیغې کړې چې د یوه نفر غږ راځي...
هغه ځای ته مو منډې کړې کوم ځای نه چې غږ راتلو ناڅاپه مې سترګې په شیخ ابومصعب ولګیدې، هو هغه أبومصعب الزرقاوي رحمه الله وؤ، تراوسه مې هغه نه وو لیدلی مګر په رسنیو او اخبارونو کې مې هغه لیدلی وو او ومې پیژانده. هغه مې داسې حال کې پیدا کړ چې سترګې یې د آسمان لوري ته وې او ګوتې یې پورته کولې او دا جملې یې ویلې : الله اکبر ... الله اکبر ... لااله الاالله محمد رسول الله، او بیا یې دا جمله وویله: اشهد ان لااله الاالله وحده لاشریک له واشهد ان محمداً عبده ورسوله، او مبارکه ږیره یې له خاورو سره یوه شوې وه او اوږده وینښتان یې لرل. بیا مې هغه راپورته کړ، او کله مې چې راپورته کړ په هغه وخت کښې یې له څیرې او سینې مبارکې څخه یې وینې جاري سوې او په ملا کښې یې د ماتیدو احساس مې وکړ، بیا یې پر مبارکه څېره نرۍ موسکا ښکاره شوه او ویې ویل: لااله الاالله وحده لا شریک له و محمدا عبده ورسوله. په هغه وخت کې د امبولانس موټر سمدستي راورسیدل او هغوی ته مو وویل چې هلته یو کس دی چې حالت یې ډیر خراب دی او کومک ته کلکه اړتیا لري، هغوی مو پردې خبر نکړل چې دا





کس أبومصعب الزرقاوي دی، وروسته له څو دقیقو څخه امریکایي ځواکونه راورسیدل، په هغه وخت کښې موږ شیخ مبارک انتقالاوه چې کله هغوی ولیدل نو فوراً یې هغه له موږه څخه واخست او پر ځمکه یې کښیښود او شیخ همدا ذکر کاوه او پر شونډو یې نرۍ موسکا وه او سترګې یې د آسمان لوري ته وې .
صلیبیان په خپل منځ کې وغږیدل او زه پوه شوم چې دوی شیخ صاحب پیژندلی دی، په هغه وخت کښې شل نفره عسکرو د هغه چارچاپیر نیولی وو او هغه یې هر لوري ته چې غوښتل یې اړاوه، او دیخوا او خوا یې کولو، او ما د هغه غږ اوریدلو چې ویل یې: اشهد ان لااله الاالله وحده لاشریک له واشهد ان محمداً عبده ورسوله.»
په همدې وخت کې امریکایي عسکرو دهغه په مخ او صورت د بوټونو او سوکانو ګوزارونه پیل کړل او په هغه وخت کښې یې ځان و خپل الله ته تسلیم کړ، او نورې جنازې یې روغتون ته یووړې. بیا یې زه، ورور مې او د کاکا زوی مې ونیولو او له ځانه سره یې بوتلو او د شیخ جنازه یې په هلیکوپټر کې یووړه.
احمد محمد خپل داستان ته دا رنګه ادامه ورکوي او وایي چې، زه دا کیسه کوم او د الله عزوجل په وړاندې د آخرت په ورځ د خپلو خبرو مسؤول یم او له هیڅ چا څخه نه بیریږم او ټول

خلک مې پيژني او که هر چا راڅخه پوښتنه وکړه نو زه به دا حقيقت ورته بيانوم.

په آخر کښې زه له خپل ګران او مجاهد ورور(أبوزيد)څخه مننه کوم چې ما ته يې د شيخ مبارک دغه رساله راکړه او له الله تعالى څخه ډير زيات او ډير زيات مشکور يم چې ددې مبارکې رسالې د ژباړې توفيق يې راکړ، هيله لرم چې د شيخ أبومصعب رحمه الله دا مبارک وصيت پر دغه امت کې نوی روح پو کړي او يو ځل بيا يې د نينوا او قادسيې پر ميدانونو ودروي، يو ځل بيا ابودجانه راپيدا کړي چې له سرې پټې سره د أبوجهل، عتبه او شيبه، او وليد او نورو طواغيتو په مقابل کښې خرامانه حرکات وکړي .

ابو اسامه عتيق زی
د ذوالحجې شلمه، ۱۴۳۲ هجري



## هغه کربښې چې په وينو ليکل شوی دی

مونږ دلته ديوموټی خاوری اويا دهغوبې معنا سرحدونو لپاره چې سايس اوبيکو رسم کړي نه جنګيږو، اوهمدارنګه ددې لپاره هم نه جنګيږو چې عربي ګمراهان دغربي ګمراهانو ځاي ونيسي، بلکې زمونږ جهاد تردې لوړ اوښايسته دي، مونږ د کلمة الله د لوړ والي لپاره جنګيږو. تر څو دين اوبندګي خاص د الله لپاره شي: { وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّى لاَ تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ الدِّينُ كُلُّهُ لِلّه.[انفال/39 (او ای مؤمنانو تاسو د دغه کافرانوسره ترهغه پورې وجنګيږۍ ترڅو فتنه اوفساد دځمکې پر مخ پاتې نشي او ټول دين دالله لپاره شي) . اوهرهغه څوك چې ددې مرام مخالفت وکړي اويا زمونږ د رسيدو دې هدف ته خنډ وګرځي، نو دا سړی زمونږ دښمن او زمونږ دتورو نشانه ده، په هرنوم اونصب چې وي.

مونږ داسې يو دين لرو چې الله د مونږ لپاره ميزان او فيصله کونکي راليږلی ده، خبره يې قاطعه او ډاډ ښونکی ده، اوفرمان يې ټوکې اوملنډې ندي، دا دين زمونږ او د خلکو په مينځ کې نسب دی،شريعت زموږ آسماني دی، فرمانونه زمونږ قرآني دي، فيصلي زموږ محمدي دي. امريکايي مسلمان زمونږګران ورور دی او کافر عرب زمونږ دښمن دی که څه هم مونږ اودوی له يوی مور څخه و اوسو.

ابو مصعب زرقاوی رحمه الله

د الصادقين خپرندويه مرکز
Em: al_sadeqeen@yahoo.com